آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۵/۱۴

# «د غمزې په تیغ مې وژنه...»

## خوشال پوهنه

## اشعار

## ۱۰

د پښتو ادب د ستر اتل د شاعرۍ په برخه کې خوشال پیژندونکي تقریباً په یوه نظر دي. کله چې د خوشال اشعار له ده د پخوانیو شاعرانو له شعرونو سره پرتله شي او یا یې شعرونه د ده د زماني له شاعرانو سره په مقایسوي ډول وڅیړل شي، له ورایه لیدل کیږي چې د خوشال شاعري د ډیرو ښو ځانګړنو په درلودلو سره، تر دا نورو لوړه ارزول کیږي. ډیرۍ خوشال پیژندونکي په دې نظر دی چې خوشال د غزل ویلو پخوانی دود پاللی، خو ډیر نوښتونه یې هم په کې کړي دي چې د ده شاعري یې لوړو پوړیو ته جګه کړې ده. سرمحقق زلمی هیوادمل دې موضوع باندې لنډ بحث کړی چې لنډیز یې داسې دی:

«د ده(خوشال) غزلې د خپل جوړښت له پلوه د غزلسرایۍ عنعنه پالي، مانا دا چې د ده غزلې زیاتره لنډې د ۵ ـ ۸ بیتو دي، اوږدې غزلې یې د غزلونو په دفتر کې لږې دي...

د خان غزلې نه یوازې دا چې د پښتو له لرغونو غزلو او یا د (۱۰ ـ ۱۱ هجري پیړیو) له نورو غزلو امتیازي خصوصیات او برجسته ګۍ لري، بلکې ځینې کسان د خوشال خان په غزلو کې ځینو نورو ابتکارونو ته هم اشاري لري، چې دا ابتکارونه خان ته د سیمې او نړۍ په فرهنګې بهیر کې د دریدو ځای ور په برخه کوي.» (هیوادمل زلمی، ننګیالی د زماني، خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني، ۱۳۸۰ل ـ ۲۰۱۱م کال، ۲۲۳ مخ)

د خوشال خان په کلیاتو کې د شعر په بیلابیلو ډولونو کې د ده هنر نمایی دا ښیي چې ده هم د شکل په برخه کې او هم د محتوا په برخه کې ډیر نوښتونه کړي او د دې نوښتونو له لارې یې پښتو ژبې او ادب ته ډیر څه وربښلي دي. په لاندې غزل کې په ډیر مهارت سره فلسفي، عاشقانه او رندانه افکار سره مرږلي او داسې ښکلي په ښکلي اینښي دي، لکه ماهر بنوال چې څو ډوله میوه په یوه ونه کې سره پیوند کړي:

راشه وګوره نن دا طراز زما
حقیقت سره قرین مجاز زما

درست عالم مې په بازار په کوڅه وایي
لا و چا ته ښکاره نه دی راز زما

د نیازمنو عمر غوارم په دا څه شي
که بې نیاز وګړي نه وري نیاز زما

د غمزې په تیغ مې وژنه، صرفه مه کړه
څوک به نه غواړي له تا نه ساز زما


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د مسجد محراب د چا دی، د عابد دی
په محراب يې د ابرو نماز زما

ښايسته د بڼ طاوس ور لره بويه
دا واړه ښکارونه، نه کا باز زما

چې په خوږو زړونو بلوسي سزا موي
ښه چې خوار شو په دنيا غماز زما

د گرداب باده را والوځه کرياب دی
چې روان شي خاطر خواه جهاز زما

که يي تل لکه شکر خورم کم به نه شي
ستا د دواړو خوږو شونډو آز زما

ته پر ما باندې تل ناز کړه معشوقه يې
زه خوشال ختک عاشق يم، نياز زما

(د خوشال کليات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۱۴- ۱۵ مخونه)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ